په اولسي شاعرۍ کښې د ملاکنډ دځنو پېښو انځورګري
(يوه څېړنه)

# Incidents portray in the folk poetry of Malakand

[1]Dr. Badshahi Room [2]Shahbaz Muhammad

***ABSTRACT***

*literature exists in all the languages of the world. It is oral history that is preserved by the people of the culture consisting of traditions belonging to a specific culture. These traditions usually include music, stories, history, legends, myths and important events. Folk literature is transmitted from generation to generation and is kept active by the people in the culture. That is why the creators of this type of literature are not known poets. This article explores some of the important events which took place at Malakand region in the recent past and are described by the Folk poets in different genres of Pashto folk literature.*

Pukhtunkhwa Journal

[1] Associate Professor, Department of Pashtu, University of Malakand
[2] PhD scholar, Department of Pashtu, University of Malakand

اولسي شاعري د مقصديت له رويه د ډېر ارزښت او اهميت وړ بللې شي.دا نه يوازې د اولس د پوهې ، علم او فرهنګ عکاسي کوي بلکې ددغه اولس د حالاتو، واقعاتو او ژوند سره تړلې پېښې هم په خپل ځان کښې خوندي کوي.په نورو ټکو کښې مونږ وئيلې شو چې اولسي شاعري د متعلقه خلقو د عصري ترجمانۍ مهم کار ترسره کوي.

د ملاکنډ سيمه يو ډېر لرغونے او زوړ تاريخ لري. دا سيمه په بېلا بېلو وختونو کښې د مختلفو حالاتواو واقعاتو سره مخ شوې ده او ددې ځاے خلقو د ژوند ډېرې تودې سړې ليدلې او زغملې دي. اګرچې دغه لړليک ډېر اوږد دے، خو ځنې واقعات او پېښې داسې دي چې هغه د خپل اهميت له مخه ددې خبرې متقاضې دي چې د نورو خلقود اګاهۍ دپاره دهغوي وضاحت وشي. ځکه زمونږ دغه پېښې اولسي شاعرۍ په ډېره فياضۍ سره خوندي کړې خودي ولې د تفاصيل نه ئې عام وګړي نه دې خبر، هم له امله ددغه پېښو د توضيح ضرورت مخې ته راځي او څېړنې ته احتياج لري. په داسې پېښو کښې ځنې پېښې دا لانديني دي .

**د رحمداد خان  افسوسناکه واقعه د ملاکنډ په سيمه يوه روح چيچونکې پېښه ده. ډېر شهرت ئې بياموندې دے. ددَ ې واقعې په حقله خداے بخښلے محمد نواز طائر ليکي:**

" په ملاکنډ ايجنسۍ کښے د کچې کوپر سم رانيزی رحم داد خان مهمند چه د مور د طرفه رانړيزے وو، د پښتونخوا په هغه څو تنه ننګيالو زلمو کښے يو د سر غړے دے چه د خوشحال بابا په قول هم په سندرو يادېږی او هم په ويرونو ـ رحمداد خان چه په رام داد نوم مشهورے دے، د پښتونخوا د بدلو، چاربيتو او ټپو ستائنو د سر غړے دے ـ دا زلمے د هغه واړه پښتنی صفاتو خاوند وو چه د پښتنو په معاشره کښے پرے فخر او وياړ کيږی، لوئ زړه، توره ، سخاوت پښتني اخلاص، ننګ، غيرت او ميلمه دوستی ـ رامداد خان ددے ټولو صفاتو خاوند وو ـ دے لا زلمے وو چه د نوم او برکت تس ئے هر پله تلے وو ـ تربورانو ددهٔ دا درناوے او عزت نه شو زغملے او د کوپر په يو جنګ کښے قتل کړے شو ـ [1]

دَ رامداد خان په واقعه دَ اسماعېلا دَ علي حېدر جوشي بدله هم موجوده ده چې په هغې کښې يې ددې الميې واقعات او اسباب بيان کړي دي ـ  په عوامو کښې ددهٔ په مرګ دَ مشهورو غاړو څهٔ نمونمې دا دي:

دَ ملاکنډ بازاره وران شے  تا کښې خرخيرې دَ رامداد دَ کور شالونه
رامداده پاخه روانېږه  دَ سرهٔ کمر نه مهمندان راغلي دينه
رامداده خرې جامې اوکړه  په کوپر راشه جينکۍ دې يادوينه
چې رامداد خان دې پرې وژلے  مړوند دې پرېوزه په لستوني کښې دننه
چې رامداد خان دې پرې وژلے  ټوپک دې مات شه دَ لوهار په سندانونه
رامداد دې دا ځلي خداے جوړ کړي  کهٔ دوباره په کوپر جنګ وي مړ دي شنه
پاس په اسمان راشه رامداده  دَ کلي لارې رانيزو نيولې دينه
سم رانيزے ورته تپه شو  رامداده نيسه دَ خټکو زيارتونه
رامداد يې سور په وينو راؤړو  چاوے رامداد دے چاوے غوښې خرخوينه
ميندې دې داسې زامن راوړي  لکه رامداد چې رانړيزۍ راوړے ونه
مسين تالي ورسره کېږدئ  رامداد سخي دے مېلمانهٔ عذر کوينه
وار دَ رامداد دَ پګړۍ تېر شو  نور مهمندان دې پګړۍ نه پسروينه[2]

دغه يوه بله اهمه پېښه د شېړ خانانو د مړينې الميه ده. دا د پلۍ د شېړ خانانو سره مخې ته راغلې وه.دا واقعه خداے بخښلي محمد نواز طائر دَ نولسمې صدۍ دَ وړومبۍ نيمايۍ ښايي[3]خو کپتان ټي جې سي پلاوډن په خپل يو خفيه رپورټ کوم چې هغه ددې سيمې دَ سياسي حالاتو په اړه تيار کړے وو او په کال ۱۸۷۶ء کښې يې خپلو فيرنګيانو مشرانو له لېږلے ؤ، ددغې واقعې کال ۱۸۷۲ء ښايي[4]کوم چې زيات صحيح ښکاري ـ دغه واقعه دَ هاغه علاقايي سياست په نتيجه کښې پېښه شوې وه کله چې به دَ جرګې دوه مخالفو ډلو دَ يو بل دَ راپرزولو زيار کولو او بيا به يې ماتې خوړونکي خان دَ خپلې سيمې نه بهر دَ شړونتيا شپې ورځې تېرولې ـ

دَ تپه بائيزۍ جائيداد سمه په سوات دواړه موجود دے ځکه به دَ پلۍ خانانو کورنۍ دَ موسم په لحاظ کله په پلۍ او کله په تانړه ميشته وې ـ

دَ شېړو خانانو واقعه په کال ۱۸۷۲ء کښې په تانړه کښې پېښه شوې وه او ددغه مقتولينو قبرونه هم په تانړه کښې دي ـ  دغه مقبرې ته دَ سربالا کوټکے وايي ـ  دغه قبرونه اوس دَ زياتو کلونو تېرېدو په سبب هوار شوي دي خو دَ هغوي دَ مرګونو دغه واقعه په پښتو ادب کښې تازه ده ـ

دَ شېړو خانانو دَ مرګونو دغه واقعه دَ کپتان پلاوډن په رپورټ کښې هم داسې ده:

“Certain partisans of Muhammad Aslam Khan (BabaKhel), in the Kuz-Kor section, contemplated following their leader into exile, and began making preparation for leaving the town. But one of their member, by name Umar Khan, owed another member of the Kuz-Kor, by name Akram Khan, of the opposite

(or Asaf Khan, Baba-khel) Party Rs. 500/- and his meditated flight having become known, his creditor (Akram Khan) went to his (Umar Khan's) house, and attempted to prevent his leaving the town, desiring to detain him as a hostage for the due payment of the debt. Umar Khan resisted, and his brother, Usman Khan, coming up, shot Akram khan dead on the spot.

Partisans of both sides, hearing shots, hurried to the scene of the fray, but the party of Asaf Khan being for the stronger, they deliberately shot not only Usman Khan, but also his brother Umar Khan and three other brothers, by name Yar Muhammad Khan Said Muhammad Khan and Pir Muhammad Khan, dragging them forcibly out of a Mayan's house, where they had taken refuge"[5]

ژباړه: دَ اسلم خان باباخېل دَ ډلې زياتره غړي چې دَ کوز کور سره يې تعلق لرو، چې خپل مشر دَ کلي نه اوباسي ـ دوي په دغه انتظاماتو کښې بوخت وو خو ددغه ډلې يو غړي عمرخان ته هم ددغه کوز کور دَ اکرم خان، دَ آصف خان باباخېل دَ مخالفي ډلې سړے ؤ ـ هر کله چې دَ کلي نه دَ وتلو خبره اکرم خان واؤرېده نو هغه په عمر خان پسې راغے او هغه يې دَ کلي دَ پرېښودو نه په دې طور منع کړو چې تهٔ به زما دَ قرض روپو په بدل کښې يرغمال يې عمر خان خبره نهٔ منله ـ په دې کښې دَ هغه ورور عثمان خان رااووتو او اکرم خان يې اوويشتو او په ځاے مړ شو ـ دَ دواړه ډلو خلقو چې ډز واؤرېدو نو سمدستي دَ جګړې ځاے ته رااورسېدهٔ خو دَ آصف خان دَ ډلې کسان مضبوط وو ـ هغوي نه صرف عثمان خان ووژو بلکې عمر خان يې هم په ځاے مړ کړو او ددوي نور درې ورونه يار محمد خان، سيد محمد خان او پير محمد خان يې هم داسې ووژل چې هغوي دَ يو مياں په کور کښې پناه اخيستې وه"

دَ شېر خانانو دَ مرګ دا واقعه په غاړو ساندو کښې محفوظه ده او اوس خو دَ سردار علي ټکر په اواز کښې دَ نړۍ په هره سيمه ورخورېږي ـ ددغه غاړې يو څو نمونې داسې دي:

اوس به سيند ډک دَ وينو راشي په تانړګۍ کښې شېر خانان حلالوينه
دَ صاحبزاده کره کوهے دے په سر سرتور دے خانان ورو ورو ډوبوينه
دَ صاحبزاده کره دننه عمر غوئيمنډ کړهٔ کشمالي په زنګونونه
چه شېر خان پرى نهٔ خلاصيږى دا صاحبزاده دَ کلى وشړئ چه ځينه
دا نيمه شپه قلاره شومه دَ اکرم خان بلبلو شور ونښلاؤنه
په عثمان خان ورانه تاڼه شوه په عمر وران شو دَ چترال پورے ملکونه
بى بى کو تور چيلے منلے ربه زما دَ جوړو اوکړے ديدنونه
رااونړيږے چړهته په بى بى کو دى ساه لنډے اولګونه
شېر جنازے ورته پرتے دى بى بى کو ناسته مرور په خلا کوينه[6]

يوه بله ستره واقعه دَ صحبت خان دَ مرګ ده ، دا هم په دې سيمه يوه لويه الميه ګڼلې شي. دَ رانيزو په خانانو کښې دَ صحبت خان دَ مرګ اليمه داسي زړهٔ دړدونکي واقعه ده چې په هاغه وخت کښې په هغې ډېرې ساندې وئيلې شوې وې ـ دغه ساندو دَ صحبت خان دَ مرګ داسې نقشه راښکلې ده چې څوک يې هم اورې نو دغه پخوانے غم تازه کوي ـ

په رانيزو کښې هم لکه دَ پښتنو دَ نورو قبيلو په مشرۍ او خانۍ جنګ جنګړې او مرګ ژوبلې شوې دي ـ صحبت خان دَ رانيزو دَ حکمت خان ځوے او دَ عنايت الله نمسے ؤ ـ دَ ملاکنډ دَ سيمې دَ تاريخي شخصيت شېردل خان ورارهٔ ؤ ـ دَ دوي دواړو ترمېنځه دَ رانيزو په خانۍ مقابله روانه وه ـ خو جېمز ډارمستېټر ددې واقعې په شا يوه بله دردناکه واقعه هم ذکر کوي ـ دَ هغهٔ په الفاظو کښې دا واقعه داسې پېښه شوې وه:

"دَ سوات دَ سيمې دَ الا ډنډ صدر الدين تللى ؤو او دَ انګرېزانو په پوځ کى شامل شوى ؤ چې دَ خپل فعاليت په اثر دَ صوبيدار بهادر مقام ته رسېدلى ؤ، دَ ډيلى په چورچپاو کى يى ډېر مال او هستى تر لاسه کړى وو ـ د پوځ سره يى رخصت واخيست ـ يوه هندوستانى مسلمانه ښځه يى وکړه او خپل وطن الانډ(اله ډنډ) ته راستون شو ـ دَ صدرالين د تره زوى صحبت خان چى خبر شو چى تربور يى د مال او ثروت سره راځى نو و ډار شو چى دى به په وطن کى مهم سړى شى د يو څو تنو غلو سره يى دده لاره ونيوله او په خوب کى يى وواژه بيا يى دَ صدرالدين ښځه له ځانه بوتله او غوښتل يى چى په زوره پرى نکاح وتړى خو ښځه ترى پټه ولاړه ځان يى هندوستان ته ورساوه او د خپل ميړه له پخوانى قوماندان سره يى مرسته وغوښته خو هغه ورسره يواځى د پيسو مرسته وکړاى شوه ـ صحبت خان د کلى لوى سړى شو ميلى چرچى کوى او ميلمستياګانى ورکوى خو ښځه يى زړه شوى ده او غواړى چى يوه ځوانه ښځه وکړى نو د باجوړ دَ سيمى دَ سنبل خان (عباس خان) لور ترکانۍ غواړى، واده تياريږى او صدرالدين (صحبت خان) له ګانو سره په ښکلو جامو او په څلويښت ګزه اوږد پټکى کى په هغه لور روانيږى ـ ددهٔ لومړى ښځه غواړى ځان مړ کړى خو يو بل فکر ورپيدا کيږى ـ د صدرالدين د يو بل تربور د شيردل خان په نامه هم ؤ چى دَ صدرالدين او مال څخه ورته څه نه وو ورکړى شوى ـ دَ صحبت خان ښځه دَ هغه سره خبره کوى او ورته وايى (صدر الدين خو ستا د تره زوى هم ؤ او صحبت خان د هغه په ټول مال قبضه کړى ده اوس ستا رضا) شيردل خان د صحبت

خان لار ونیسی وژنی یی او د وادۀ جامی یی په وینو رنګوی ، ډیرو شاعرانو د صحبت خان په مرګ ژړلی او سندری یی وئیلی دی" ـ [7]

او ددې پېښې په حقله پلاوډن په خپل رپورټ کال ۱۸۷۶ء کښې داسې ليکلي دي:

"Being once again firmly established in the Khanship Sherdil Khan proceeded to saidu, and there solemnly, before the Akhund, swore a peace with his nephew, Sohbat Khan. Hardly, however, had they both returned to Allahdand before he resolved to murder him. He accordingly, in June 1869, sent a body of men to attack him in his house. Sohbat Khan fled and too refuge in a Shrine known as Ziarat-i-Shinchi- Baba [Cheshti Baba] near the village, but being hard pressed there, and the sacredness of the asylum not being respected, he made for the house of the house of a sayyid, a refuge which is held by Afghans be equally inviolable. His pursuance, however, respected it as little as they had the ziyarat and breaking into it dispatched the unfortunate youth with their swords"[8]

ژباړه: چې يو وار يې بيا خاني قائمه کړه نو شېر دل خان سيدو ته لاړو، او دغلته يې د اخون په وړاندې دَ خپل وراره صحبت خان سره روغه اوکړه ـ

دوي دواړه اله ډهنډ ته واپس رارسېدلي وو چې دَ هغۀ دَ مرګ اراده يې اوکړه ـ او دغه شان دَ جون په مياشت کال ۱۸۶۹ء کښې دۀ (شېر دل خان) څو کسان دَ هغۀ په کور دَ حملې دپاره ورولېږل ـ صحبت خان ؤتښتېدو او د کلي دَ خوا په مشهور زيارت چشتي بابا کښې يې پناه واخسته ـ خو هلته پرې دومره سخته راوستې شوه چې دې پوهه شو چې دَ زيارت دَ تقدس به خيال ونۀ ساتلے شي، دَ سيدانو په کور ورننوت ـ دَ کوم چې واړه پښتانۀ يو شان قدر کوي ـ

خو ددۀ لېږلي شوي سړو دَ هغې هم هاغه شان خيال ونۀ ساتلو لکه څنګه چې يې دَ زيارت نۀ وو ساتلے ـ او دغه رنګ يې دغه بدقسمته په تورو اووهو او مړ کړو ـ"

مرګ و مار دَ پښتنو په سيمه عام وو او کوم ځيز چې عام شي دَ هغې بيا دومره اهميت نۀ وي ـ خو په دې پېښه کښې دوه داسې خبرې وې چې په هغې دَ ټولو پښتنو زړونه اودردېدل ـ يو دَ زيارت او دَ سيدانو دَ کور بې حرمتي اوشوه کومه چې دَ پښتو او پښتونولی سخت خلاف دي او دوېمه الميه دا وه چې دغه شپه دَ صحبت خان دَ وادۀ شپه وه ـ دۀ له يې په باجوړ کښې دَ ترکلانيانو په کورنی کښې دَ فيض طلب خان نسمیٰ دَ عباس خان لور کوژدن کړې وه ـ په دغه ساندو کښې دغه واړه اړخونه ستائيلي شوي دي ـ دغه يولس غاړې مستشرق جېمزډار مستېټر په خپل کتاب دَ پښتونخوا دَ شعر هار و بهار کښې نقل کړي دي:

مور يې پلو په پلو ګرځي صحبت خان زويه مېلمانۀ راغلي دينه
مور يې پلو په پلو ګرځي صحبته زويه دَ سيالی دې اوويستمه
څلور کوټې څلور دالانه دَ صحبت مور له چا کټکے نۀ ورکونه
دَ صحبت مور نۀ وه ميره وه نۀ لېونی شوه نۀ يې واغوستل کندونه
مور يې په سپين انديري خوب کا دَ صحبت خان دَ وينو ډک شو دلانونه
صحبت خان مړ ارمان يې اوکړو زاړۀ مې نۀ کړۀ دَ سنبل دَ لور داجونه
صحبت خان مړ ارمان يې اوکړو وادۀ مې نۀ کړه باجوړی په نشانونه
ترکانۍ مور ته په ژړا شوه زما راغلے ټيک به بيا په بېرته ځينه
ترکانۍ مور ته په ژړا شوه دَ سينې ګل مې په سحر اورېژېدونه
ترکانۍ سخر ته په ژړا شوه کاکا زما دَ پيکړو مات شو مېخونه
دَ صحبت خان دومره پګړۍ وه چې دَ پلۍ دَ جونو جوړ شو رومالونه[9]

په اخيري غاړه کښې "دَ پلۍ دَ جونو جوړ شو رومالونه" راغلي دي ـ خدائے بخښلے محمد نواز طائر ددې مصرعې له کبله تېروتے دے او دا واقعه يې دَ پلۍ کلي خودلې ده ـ کوم چې دَ بائيزو کلے دے[10] خو دَ پلۍ دَ جونو دَ رومالونو نسبت ددې واقعې سره دادے چې دَ صحبت خان مور دَ پلۍ دَ اميرالله خان خور اؤ دَ توره باز خان لور وه ـ

د ناصر خان سره راپېښه شوې مافوق الفطرت واقعه هم د ملاکنډ د سيمې په داسې پېښه ده، چې اوس ئې هم خلق د حيرت په دوچاله کښې اچولي دي. ناصر چې په عوامو کښې په ناصر خان جوګي ياديږي، دَ تاني دَ خانخېلو دَ يوې درنې کورنې چې دَ پلو خانان بللے شي، سره تعلق لري ـ ددۀ په حقله خدائے بخښلے عبدالحق نسيم ليکي:

"ناصر خان دَ يوسفزو په ياد کلي تانه ملاکنډ ايجنسی کښې دَ پلو دَ خانانو په يوه درنه کورنی کښې زېږېدلے ؤ ـ دَپلار نوم يې بلند خان ؤ ـ ددۀ دَ پيدا کېدو دَ نېټې درک نۀ لګي ـ مونږ دَ قياس او اندازې په رڼا کښې ددۀ دَ زېږېدو وخت دَ ۱۸۳۰ء نه ۱۸۴۰ء خواشا ټاکلے شو" ـ[11]

دَ پروفيسر عالمګير خان دَ مرتب کړې شجرې مطابق دَ ناصر خان دَ پلار نوم بلند خان، دَ نيکۀ نوم عبدالکبير خان او دَ ور نيکۀ نوم سرفراز خان ؤ ـ دَ ناصر خان يو زوے هم ؤ دَ هغه نوم محمود خان ؤ ـ دَ هغه بيا اولاد نۀ دے شوے ـ [12]

داسي وايي چې ناصر خان په وړوکوالي ډېر ښکلے او نيازبين ؤ اګر چې ددۀ بل ورور هم ؤ ـ دَ هغۀ نوم يارود ؤ خو دَ مور و پلار دے زيات خوښ ؤ چې لړ لوي ګانے شو نو دَ تانې خواته دَ ټوپ درې غرۀ ته ښکار له اوتے ؤ ـ ستړے شوے ؤ نو هلته په ټوپ دره کښې دَ بدهيانو دَ ګمبت په خوا کښې يې ډېره اولګوله او اودۀ شو ـ په دې کښې دَ بنګال دوه جوګيان ګوګا او فېر راغلۀ ـ دا دواړه پلار زوے وو ـ ځانله يې وريژې پخې کړې ـ ناصر خان چې راويښ شو ، دَ هغوي سره يې خوراک اوکړو او بيا ورسره هډو ملګرے شو ـ دَ ګوکن (بونېر) غرۀ ته لاړه او دَ هلته نه بنګال ته اورسېدو ـ مور ته يې دَ ژوندي جاړن زوي دَ غايبېدو په سبب نس خوګے اوشو او مړه شوه ـ فېر او ګوګا په بنګال کښې دَ خپلې سيمې مخوريز خلق وو ـ دَ فېر يوه خور وه ـ دَ هغې نوم دانت وو ـ دَ ناصر خان او دانت ترمېنځه محبت پېدا شو ـ ناصر خان به دَ ګوګا په پټو کښې کار کولو او پټ په پټه به ورته دانت دم درهې او جادوګري ښودل ـ وشوه داسې چې ددوي په مينه ګوګا او فېر پوهه شو ـ دَ ناصر خان دَ مرګ بندوبست يې شروع کړو ـ دانت پرې پوهه شوه ـ ناصر خان يې په غوږ اوهو چې ګورې قيصه داسې ده ـ يوه ورځ ورته هغوي داسې چل جوړ کړو چې يو اوږد مزے يې راخيستي وو ـ ځنګل ته يې بوتلو او ورته يې وے چې دا مزے واخله ـ داسې ځه او دا مزے خوروه او چې کله يې اخري سر را اورسي نو تۀ يې پرېږده مه ـ مونږ ته به غږ راکړے ـ دۀ هم هغسے کول خو دَ دانت په هدايت يې هم ورسره عمل کوو ـ مزے يې غزوو چې اخرے سر يې راغے، په ځاے يې پرېښودو او په منډه منډۀ لرې لاړو ـ دَ هاغه ځاے نه يې دوي ته اواز اوکړو چې اخرے سر يې راغے ـ او په دې کښې يو برق شو ـ دَ جادو دَ مزي په سبب دَ ځنګل نه تر اسمانه لمبې پورته شوې ـ ګوګا او فېر په دې خيال چې ځه لاړو ښتکورے شو، خوشحاله وو او دَ اور دَ مړ کېدو پورې يې انتظار کوو ـ

ناصر خان چې څۀ مېنځ وړاندې لاړو، دانت يې انتظار کولو ـ دَ هغې سره خپل کلي تانې ته څۀ دَ جادو او څۀ په خپل زور په تېښته راغے ـ فېر چې دانت اونۀ مونده نو پوهه شو او دَ دۀ دَ مرګ تابيا يې کوله ـ خو دانت په دې خطره هم پوهه کړے وو چې فېر ځان په هر قسمه شکل کولے شي خو زمونږ په تندي چې کومه خانداني نخښه ده ، هغه نشي بدلولے ـ دغه نخښه زمونږ دَ نيکۀ جبرجا جوګي دَ وخت نه راروانه ده کله چې هغه له يو بزرګ سر په پڼه وهلے ؤ ـ ځکه نو احتياط کوه ـ

فېر پسې تانې ته را اورسېدو ـ حجرې ته يې دَ مېلمه په صورت کښې راغے ـ شکل يې بدل کړے ؤ خو دۀ يې هغه نخښه وپېژنده ـ کومه چې دَ هغۀ په تندي وه ـ ځان يې پرې ناغرضه کړو، او شپې ته يې پاتې کړو ـ ړوند دَ خدايه څۀ غواړي، دوه سترګې، فېر په زړۀ کښې خوشحاله شو چې ځه که خيروي نن شپه به يې مرچړق مات کړم ـ بل طرف ته ناصر خان دَ خپلو شاګردانو سره صلاح وکړه او دَ خپل يو شاګرد چې دَ پېشې نه چميار ؤ په لاسو يې فېر هپ دپ کړو او دَ تانې کلي دَ خاور ګاډي خټ يې پرې رااونړولو ـ وخت تېرېدو په ناصر خان به دَ شاګردانو لويه ډله ورپسې وه ـ په جادو به يې قسماقسم کارونه کول ـ دَ جادو ډز يې تر لرې لرې تلے ؤ ـ وايي چې په جادو به يې دَ ځانه او يا دَ بل چانه قسم قسم ځناور جوړول او بيا به يې واپس په خپل صورت کښې راوستل ـ دَ کلي دَ يو سړي نه يې ګيدړ جوړ کړے ؤ ـ په سپو يې غرۀ ته وزغلوو ـ هغه بيا راغے او په پښو کښې ورته ورغړېدو ـ بيا يې واپس په خپله جوټه کښې راوستو ـ هغه بيا په ګيدړ مياں مشهور شو خپل نوم يې خلقو هېر کړو ـ

په تانه کښې چې اوس هم څوک دَ مار لړم دم کوي هغه ددغه دم دَ زورور ثابتولو دپاره دَ ناصر خان حواله ورکوي چې دا دَ ناصر خان دَ خولې دم دے ـ دَ ناصر خان دَ جادو واقعات زيات دي ـ پخوا به په حجرو کښې ددۀ قيصې خلقو کولې ـ خداے بخښلے پروفېسر عبدالحق نسيم په خپله يوه مقاله "ناصر خان څوک ؤ" کښې تر څۀ حده دغه واقعات ترتيب کړي دي ـ وايي چې په اخري عمر کښې ناصر خان دَ سيدو بابا په لاس دَ نقصاني دمونو او جادو نه توبه ګار شوے ؤ ـ

خداے بخښلے پروفېسر عبدالحق نسيم دَ ګوګا جادوګر دَ زوي نوم منير ليکلے دے[13] خو داسې ښکاري چې دا نوم دغسې نۀ ؤ ـ خداے بخښلے دغه واقعات دَ اولسي شاعر خداے بخښلي عالمزېب شالدا په حواله ليکلي دي ـ خو دَ هغۀ په قلمي ديوان کښې چې دَ ناصر خان کومه قيصه شامله ده ، په هغې کښې دا نوم فېر راغلے دے ـ دَ عالمزېب شالدا ليکلي قيصه" ناصر خان جوګي" کښې چې دا نوم څنګه ذکر دے دَ هغې نه څو شعرونه دَ نمونې په طور وړاندې کولې شي ـ

ددې يو نامه ګوګا وه دَ بل فېر
دې به وېښ کړي رب دې پېښ کړي ورته خبر[14]

فېر ګوګا دخان نه دواړه روانيږي
ناصر خان کله ددوي نه پاتي کيږي"[15]

فېر ،ګوګا ، ناصر خان شولو په رفتار
په طرف يې دَ ګوکن اونيوه لار[16]

په دې قيصه کښې دَدې ذکر شوو شعرونو نه علاوه دېرش ځايه دا نوم هم په دې صورت کښې راغلے دے ـ

دَ چکدرې د قلعه نه د ټوپک وړلو پېښه ، دلته ددې سيمې خلق د يوې لويې کارنامې نه کمه نه ګڼي.

په کال ۱۸۹۵ء کښې چې غازيانو دَ فيرنګيانو سره مخ په مخ کومې مقابلې کړې وې او کومې بهادرۍ يې په ميدان جنګ کښې رقم کړې وې، فيرنګيانو دَ هغې اعتراف په خپل خپل انداز کښې کړے دے ۔ فيرنګے چې دَ هاغه زمانې جديد ترينه وسله ورسره وه خو بيا هم ددې سيمې خلقو په هغوي وچ لامدهٔ خوړلي نهٔ دي ۔ چې کله هم دَ غزا غږ شوے دے ځان يې دَ غزا ميدان ته رسولے دے ۔

دَ فيرنګيانو هم زيات زور په دې وو چې دَ هغوي دغه نوې وسله چرته پښتنو له په لاس ورنهٔ شي ۔ په هر يو جنګ کښې به زور په دې لګولے شو ۔ ځکه چې دَ هغوي دا تجربه شوې وه چې دوي په ځو ورځو کښې زمونږ دَ ټوپک نقل تيارولے شي ۔ بيا دَ کارتوسو معامله دَ دې نه سخته وه ۔ کهٔ ټوپک به تيار هم کړے شو خو کارتوس دلته جوړېدے نهٔ شو ۔ ددغه ټوپکو دپاره به هاغه کارتوس پکار راوستے شو کوم چې به په جنګ کښې دَ فيرنګي دَ فوځ نه قبضه کړې شو ۔

دَ ملاکنډ فيلډ فورس دَ فوځي کاروايۍ په اوان چې په باجوړ کښې دَ سکهـ پنځهٔ دبرشم نه کومې ټوپکې اخيستې شوې وې، دَ هغې دَ واپسۍ دپاره چې کوم زور لګولے شوے وو، هغه دَ چرچل دَ بيان نه واضحه ده ۔ ليکي:

"ددې قبايلو سره نور څه دَ حواله کولو وو، بس دغه وسله وه ۔ ددې په زور اخستلو ځو مياشتې ، ځومره ژوندونونه او په زرګونو پاونډونه واخستهٔ ۔ ددې هونبره تاواني کاروبار به چرته نهٔ وي شوے"[17]

بيا پښتانهٔ خو وسلې ته دَ نارينۀ کالے هم وايي ۔ او دغه کالے دوي ځانله په هر حال راپيدا کوي ۔

دَ چکدرې په قلعه کښې هم لکه دَ نورو فوځي ځايونو وسله محفوظه پرته وه ۔ دا قلعه دَ غره په يوه غونډۍ پرته ده په ويخ کښې يې دَ سوات سيند بهيږي او دَ وسلې کوټ هم په دغه غرهٔ کښې کنستے شوے داسې پوخ او مضبوط ځاے وو چې دَ چا په وهم ګمان کښې هم دَ هغې نه وسله پټول نه راتلهٔ ۔

ددغه وسلې دَ راپټولو دپاره ځو کسانو داسې چل جوړ کړو چې دَ قلعه نه ښه په کافي فاصله بر طرف ته يې دَ سيند په غاړه په يو خټ کښې دَ شپې سورنګ شروع کړو ۔ فاصله دومره وه چې دَ شپې سنتريانو ته په نظر څهٔ نهٔ راتلهٔ ۔ دغه کار دوي په داسې مهارت کوو چې هيچا ته هم شک قدرله نهٔ شو کېدے ۔ ځومره ملبه چې به يې بهر راويستله هغه به يې شپې ته شپې په سيند لاهو کوله ۔ سورنګ قلعه ته راورسولے شو ۔ او کمال يې دا اوکړو چې بالکل دَ کوټ په مېنځ کښې يې رااوويستو۔ په شپه کښې يې بلها ټوپکې دَ کوټ نه ددغه سورنګ په لاره داسې په خاموشۍ اوويستلې چې هيځوک پرې پوهه نهٔ شو ۔ سحر چې پته اولګېده او رپورټ مخکښې لاړو نو افسران يې دَ هغې تماشې له راغله ۔ هغوي په دې کار حېران وو ۔ دغه واقعه پائينده خان نومې اولسي شاعر په خپله يوه چاربېته کښې بيان کړې ده ۔ دغه چاربېته په ټوله پښتونخوا کښې خوره شوې وه ۔ چاربېته دا ده:

ټوپک دَ چکدرې نه
چا يوړو دَ پنجرې نه

رسا دَ ملاکنډ نه ورله راغلهٔ فيرنګيان

ورته اودريدهٔ حېران

ټوپک يې کړو ترې پټ
سورې يې کړو پرې ګوټ

غلهٔ لاړل ځنګ وځټ شو دَ انګرېز دَ خطرې نه

ټوپک دَ چکدرې نه

انګرېز اوکړو تدبير
بې شانه شو ذهير

غلهٔ لاړل هواګير چې په درګۍ شو ورته پنده

رسا دَ ملاکنده

فرنګ اوکړه دا لاپه
ميمانو ته دا شاپه

اسلام به کړم خراپه ورپسي به شم روان

ورته اودریدهٔ حیران

میمانو وي سرکاره
وتلے یي دَ کاره

کونسل وکړه چي خلاص شے ددے نوي معاملي نه

ټوپک دَ چکدري نه

فیرنګ اوکړو دا شور
مونږ ټول شولو بې کور

په دي کار کښي صلاح ده چي ټول اوکړو پري غونډه

رسا دَ ملاکنډه

قانون يي کړو روان
وے دا زمونږ ارمان

چي سوات او باجوړ دي خالي نهٔ وي دَ نرغي نه

ټوپک دَ چکدري نه

ډیلي مي ورکړي
خانان مي غلي کړي

غرض به په ما نهٔ کوي دا کار به شي اسان

ورته اودرېدهٔ حیران

اسلام دے اتفاق
ورپکښي نشته نفاق

تباه دي هم هغه شي چي ښوک ځي رانه په ښنده

رسا دَ ملاکنډهٔ

کافر ټول دَ سپلمي نه
د هري معاملي نه

په دي فکر اخته چي دا کار اوشي بې اسري نه

ټوپک دَ چکدري نه

وئیل دَ پاینده خان
افسوس ارمان ارمان

کارونه دَ رب دا دي چي په زړهٔ مي دے خفګان

ورته اودریدهٔ حیران[18]

دسعیدو شهیدې زړه دردوونکې پېښه یوه بله داسې واقعه ده
چې د پښتوپه اولسي شاعرۍ کښې ئې ځان رانغښتې دے.
دا دَ کال ۱۹۰۰ء خبره ده ـ دَ تانې کلي په ډهېرۍ محله کښې اوبهٔ نهٔ وې ـ زنانوٴ به په منګو کښې دَ تانې دَ ولې جومات او یا دَ میاں نور بابا دَ ولې نه اوبهٔ خېژولې ـ سعیدې هم لکه دَ نور کله په شان یوه ورځ منګے په سر کړے او اوبو له دَ ډهیرۍ نه راکوزه شوې وه ـ ګناه یې دغه کړې وو چې پانزېب یې اچولے وو ـ منګے په سر او پانزېب په پښو چې خاوند ګلاب شاه له مخې له ورغلې او هغه یې پانزېب ته کتلې ، سړے بددماغه ؤ، شک یې اوخوړو چې اخر زما ددې ښځې پانزېب ولې په پښو دے ـ

بس هم دغه دَ پانزېب په پښو کولو ګناه وو چې په نتیجه کښې یې ګلاب شاه ددې دَ مرګ تابیا اوکړه ـ په کور کښې دَ سعیدو دوه نورې بنې هم وې خو مجال شته چې چا سعیدې ته دا حال وئیلې وې چې تښته ، ګورې، سړے دې وژنې ـ

خاوند چې پلۍ ته دَ یو ملګري دَ زوي دَ سنت په بهانه روانوله اوٴ دواړه بنو ورله ښځې کولې نو پټ پټ به یې ورته ژړل، او چې دې به تپوس اوکړو نو هغوي به څهٔ بهانه جوړه کړه ـ په هاغه زمانه دلته نه لارۍ وه او نه موټر، پیاده یې دَ چړهات په کنډو واړوله او چې آغاړې ته لړ ورښکته شو، نو بې ګناه سعیدو یې په چاړه حلاله کړهٔ او هم په هاغه ځاے یې پرېښوده ـ

په شپه کښې په موره بانډوالو حضوره شوه ـ په سبا له پسې هغوي راغله، ګټې یې ترې تاؤ کړې او هم په هاغه لویې پلن تړ یې ورله قبر جوړ کړو ـ په کوم دپاسه چې یې دا بې ګناه حلاله کړې وه ـ په لویه لار کښې په دې قبر دَ پلوسې لویه اونه ولاړه ده ـ [19]

ګلاب شاه ته چا هیڅ اونهٔ وے خو زنانو تر اوسه پورې په سندرو کښې دَ سعیدې نوم او دَ هغې دَ بې ګناه قتل دغه پېښه ژوندۍ ساتلې ده ـ

"سعیدو شهیده

پاس په جنت کوي سېلونه

سعیدو شهیده

دَ ګلاب شاه سپېره پیشقوزه — دَ بې ګناه سعیدو په وینو سره کوینه
دَ سعیدو رېښمینې زلفې — بنې یې ناستې ورله ښنې جوړوینه
بیا به سعیدو اوبو له نهٔ ځي — ددې دَ مرګ ګلاب شاه کړې توځیځونه
سپېره پانزېبه دَ پښو خیز ئې — داستا په سر پېغلو بائللې دي سرونه
منګیه مات شے څهٔ دې اوکړل — دَ سعیدو سره دې څهٔ اوکړل خویونه
نرکیزې اوغورزوۍ خلقه — دَ سعیدو په خپلو وینو سرهٔ لاسونه
چې په چړهات تېرېږے باده — په سعیدو دَ بنو وایه سلامونه
دَ ګلاب شاه سپینه پیشقوزه — دَ سعیدو په وینو سرهٔ دواړه مخونه
سعیده اوده په خوب پرته ده — دَ لارې خلق پرې کوي ځانته سوالونه[20]

دَ محب الله خان مرګ واقعه هم د ملاکنډ د یاد کلي تانې سره تړلې شوې ده. دا واقعه هم زمونږ د اولسي شاعرۍ یو نه شلېدونکې برخه ګرځېدلې ده. د محب الله خان په حقله

Who’s who in the Dir, swat and Chitral Agenecy 1937?

کښې داسې لیکلي:

> “Mohibullah khan: Son of the late Khan Bahadur Inayatullah khan of Thana. He has been made a provincial Durbari in place of his father and also given a personal allowance of Rs.3000. is leader of one of the faction in Thana. Loyal to Government. Did good work in keeping the Red shirt movement out of Thana when his faction was in power. Friendly to the Nawab of Dir and hostile to the Wali of Swat. Was made a Khan Sahib in 1935.”[21]

ژباړه: محب الله خان دَ تاني دَ خان بهادر عنايت الله خان زوے ۔ دي دَ پلار په ځاے صوبايي درباري جوړ کړے شو ے دے ۔ او ورله دري زره روپۍ شخصي ماجب ورکولے شي ۔ دي په تانه کښي (دَ جرګي) دَ يوې ډلي مشر دے ۔ دَ سرکار وفادار دے ۔ کله چي ددهٔ ډله باندي وه نو دَ سرخپوش تحريک يي دغلته کاميابی ته نهٔ وو پرېښودے ۔ دَ دير دَ نواب سره دوستانه او دَ سوات والي سره مخاصمت لري ۔ دي په کال ۱۹۳۵ء کښي "خان صاحب" جوړ کړے شوےدے"

محب الله خان به په مئيب الله خان بللے شو ۔ په طبيعت کښي يي اګر چي تېزي لرله خو بل لوري ته الله داسي صفات هم وربخښلي وو چي هغه کله په کال ۱۹۳۸ء کښي حق اورسېدو نو بيا يي کمے محسوسېدو ۔ ددهٔ په مرګ اولسي شاعرانو او خصوصاً زنانۀ په شعري ژبه کښي دَ خپل غم اظهار کړے دے ۔ دَ يوې لوبې سر يي داسي دے ۔

مړ مئيب الله خان
افسوس دے په ارمان

دَ مئيب الله خان دَ مرګ دوه اتيا کلونه اوشو خو اوس هم هاغه غاړي زنانه يادوي او وايي ۔ دَ مئيب الله خان چونکي نارينه اولاد نهٔ وو نو په غاړو کښي هم دغه دردناک لوري ته اشاري شته:

خلقه راځئ چي ورله ورشو ميراتي راغلي رنګا رنګ ژړا کوينه
خلقه راځئ چي ورله ورشو خان مو د لوي سفر جامي اغوستي دينه
دَ خان بهادر دَ بلی کله پرون تازه وے نن دي مراوي ډنډرونه
دَ هسپتال په کوټکي کښي خان مي ورستی سلګی وهي له ملکه ځينه
دَ خان دَ غمه غرونه ژاړي ځکه دَ کلي په مېنځ غبرګي خوړګی ځينه
دَ حبيب الله دَ زړهٔ دپاره دَ محب الله پالنګ ته مه اچوئ لاسونه
پرون دي دور دَ خاني وو نن دي په قبر بلبلان ناري وهينه
ورکه شه څوکه[3] ورک يي نوم شه زلمي تري اخلي راليري تش پالنګونه[22]

دَ بريکوټ خان دَ مرګ الميه، يوه بله نه هېرېدونکي واقعه ده، چي د اولسي شاعرانو په کلامونو کښي ئې ځاے بيامونډي دے. بريکوټ اوس دَ ضلع ملاکنډ برخه نهٔ ده او په ضلع سوات کښي شامل دے خو پخوا چي په کال ۱۸۹۵ء کښي ملاکنډ پوليټيکل ايجنسي جوړه کړي شوه نو سوات، دير، باجوړ او چترال ددي برخي وې ۔ دَ ضلع ملاکنډ سره دَ ډېر نزدې والي په سبب دغه سندره تر اوسه په ښادو کښي زنانه وايي او دَ بريکوټ خان دَ مرګ ياد تازه کوي ۔ دَ بريکوټ خان خپل نوم عمر واحد ؤ او دَپلار نوم يي محمد زمان خان ؤ چي په مېجر صېب مشهور ؤ ۔ عمر واحد خان دَ تحصيلدار په عهده ؤ ۔ په کال ۱۹۶۵ء کښي ددهٔ بدلي چترال ته اوشوه ۔ په هاغه زمانه چترال ته تلل ډېر ګران وو موسم دَ واؤرو وو لارې بندي وې ۔

بريکوټ خان سره دَ بال بچ چي دري زامن ، يوه بي بي او يوه ورسره خدمتګاره وه ، دَ پېښور نه په جهاز کښي چترال ته روان شو ۔ موسم خراب وو جهاز دَ حادثي ښکار شو ۔ په دغه جهاز کښي دَدوي دَ کورني پنځه کسان سره دَ خدمتګاري مړهٔ شو ۔ او يوه ماشومه لور يي پکښي معجزاتي طور ژوندی پاتي شوه [23]

دَ بريکوټ خان دَ مرګ دغه لويه سانحه په شپږويشتم مارچ کال ۱۹۶۵ء کښي پېښه شوې وه ۔ دَ سوات اولسي شاعرې ، چي شاهي نوم يي وو په دې پوره سندره جوړه کړي وه ۔ دغه سندره اګر چي ډېر المناک شا منظري لري خو دَ شاو خوا زنانه يي دَ ښادو په موقعه زمزمه کوي ۔

شاهي نومي عوامي شاعرې په دې سندره کښي دغه ټول واقعات بيان کړي دي ۔

"جاز اوچتيږي عالم غرقيږي
بريکوټ خان ته دَ مرګ اوس مخه کيږي
جاز اوچتيږي

[3] څوکه دَ تاني په بر سر دَ يوې مقبرې نوم دے ـ دي ته نن سبا بادام باغچه وائي

اوس به موټر راروانیږي
دَ بریکوټ په ډاګ اودریږي
عمر واحد خان ورته خیژي
بېلتون تلوار وکړه پېښور باندې کوزیږي
جاز اوچتیږي

محاوریه جاز ته ورخیژي
جاز دَ چترال په لور سمیږي
جاز پرې نسکور شو دوي په واورو کښې ډوبیږي
جاز اوچتیږي

دوي ته کونډې اړامونه
دَ پلار یې اوښکي په مخ ځینه
ترۀ یې افسوس افسوس کوینه
بشرې یې راوړې ښې بشرې پکښې بندیږي
جاز اوچتیږي

ماسخوتن جاز راغے دَپاسه
مور یې لاس نیسې چې زما ګلونه راکه
دا سرتور سرې خوېندې یې زغلي په کاواکه
ورانداري پاڅه پالنګ سم کا عمر واحد پکښې غوړیږي
جاز اوچتیږي

بېلتونه لکھ روپۍ ترې واله
شه په قلاره چې رانښے په دې لاره
یو تحصیلدار دے مور و پلار یې پرې غرقیږي
جاز اوچتیږي

بسکے په دغه فیصله ده
شېږ جنازې دَ ډهېرکۍ سره ښخیږي
جاز اوچتیږي"[24]

ددغه بره واقعاتو نه سربېره یو شمیر پېښې او واقعات نور هم شته چې هغه زمونږ د اولسي شاعرۍ په مختلفو اصنافو کښې خوندي شوي دي او ددې سېمې د ادبي او اولسي تاریخ حصه ده، ولې د مقالې د طوالت له ویرې ترې ډډه وکړې شوه، بیا ددغه څو واقعاتو تذکره ضروري وه چې د نووځېرنکارانو او ادب د طالبعلمانو په ښه راشي او هغوي ترې ګټه پورته کړي.

**References**

**حوالي**

[1] سلمئ شاهين، روهي سندرې، دويم وار، پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسټي، ۲۰۱۳، مخ ۳۷۹

[2] هم دغه، مخ ۲۰۲

[3] محمد نواز طائر، ټپه او ژوند، مخ ۱۹۸

[4] T.J.C. Plowden. Leading Persons and State of Factions in swat, Selection from the Records of the Govt of the Pujnab and its Dependencies, Confidential Series No. A, VIII Govt of India Press, Simla, 1932, P 46

[5] Ibid, P 46

[6] محمد نواز طائر، ټپه او ژوند، مخونه ۲۰۰، ۲۰۱

[7] جېمز ډار مسټېټر، دَ پښتونخوا د شعر هار و بهار، درېم چاپ، پښتو کونکی، سيد بهاء الدين مجروح، پښتو ټولنه، ۱۳۵۶ کال زمرے ۱۵، تشريحات، مخونه، ۵۷، ۵۸

[8] T.J.C. Plowden. Leading Persons and State of Factions in swat pp, 40, 41

[9] جېمز ډار مسټېټر، دَ پښتونخوا دَ شعر هار و بهار، مخونه ۱۴۴، ۱۴۶

[10] محمد نواز طائر، ټپه او ژوند، مخ ۱۹۵

[11] پروفېسر عبدالحق نسيم، سپېدي غوټۍ، شعېب سنز مينګوره، دسمبر ۲۰۱۴ء، مخونه ۲۵۵، ۲۵۶-ناصر خان څوک وو، پښتو، پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسټي، پېښور، ج نمبر ۱۸، شماره نمبر ۵، جون ۱۹۸۶ء، مخ ۱۳

[12] پروفېسر عالمګير خان، شجره نسب خانخيل تهانه، تهانه ادبي ټولنه ملاکنډ، مارچ ۲۰۱۹، مخ ۱۵۴

[13] پروفېسر عبدالحق نسيم، سپېدي غوټۍ مخ ۲۵۷-عبدالحق نسيم، ناصر خان څوک وو، مخ ۱۴

[14] عالمزيب شالدا، ديوان عالمزيب شالدا (قلمي) اول پړک، دولسم شعر، مخ ۵۸

[15] هم دغه ، پنځلسم شعر

[16] هم دغه، دويم ټوک، شعر اول ، مخ ۵۹

[17] ونسټن ايس چرچل، ملاکنډ فيلډ فورس، مخ ۱۷۹

[18] اولسي سندرې، دوهم ټوک، دَ قومونو دَ قبايلو وزارت دَ نشرياتو د فرهنګي چارو رياست، کابل، اشاعت نه لري، مخ ۱۷- عبدالله بختاني، تور برېښ ، پښتو ټولنه، ۱۴۴۷ هـ ، مخونه ۱۲۳،۱۲۵-ډاکټر علي خېل درياب، شهباز محمد، دَ ملاکنډ غزاګانې دَ شاعرانو په نظر کښې ، تکتو، کوټه، مخونه، ۸۶-۸۸-همېش خليل، دَ چاربېتې پخواني شاعران، مخونه ۱۲۳-۱۲۵

[19] دَ فضل غفار شلماني، ريټائرډSET ولد فضل کريم شلماني عمر اتۀ اويا کاله ــ محمد نفيس شلماني رياټائرډPST ولد محمود خان شلماني عمر پنځۀ شپېتۀ کلونه ــ داوړه په رشته کښې دَ ګلاب شاه شلماني کړوسي دي ــ سره انټرويو13/07.2020

[20] دَ ګلاب شاه دَ نمسی محبوب جان ترور سره انټرويو ــ دا وخت ددې عمر پنځه اتيا کاله دے ــ ۱۵ ــ ۲۰۲۰/۰۷

[21] Who's Who in the Dir, Swat and Chitral Agency, Corrected up to the 1st june 1937, Govt of India. Press, New Delhi, 1937, P. 24

[22] محمد نواز طائر، ټپه او ژوند، مخونه ۲۰۹، ۲۱۰

[23] دَ عمرواحد دَ نمسي کليم رياض مېنجر، UBLسره دَ هغوي په ځاے بريکوټ کښې انټرويو ـ ۱۲ ـ ۰۷ ـ ۲۰۲۰

[24] دَ زوجه محمد اسلام نه وليکلے شو ـ محترمه دَ بريکوټ خان دَ هاغه لور ملګري ده کومه چې په دغه حادثه کښې ژوندۍ پاتې شوې وه ـ ۱۵ ـ ۰۷ ـ ۲۰۲۰